# د ټرون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا

د ملي تدارکاتو ریاست د (20580) شمېرې او 1447/12/27 نېټې د متحدالمال د دویمې مادې د (6) بند پر بنسټ ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک په پام کې لري چې د افغانستان بانک د تخار او بدخشان نمایندگیو لپاره د سلایډینګ ګېټ دروازې چمتو او نصب کول، د امنیتي ګارډ ټاور، تشنابونو او د تلاشي غرفو جوړولو پروژې د تشخیصیه شمیرې DAB/1405/NCB/W06 لرونکې ده، د یوراک ودانیزو، سړک جوړولو او د ودانیزو موادو چمتو کولو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د (87385) شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې نوی ښار، فیض آباد – بدخشان مرکز کې دی د ټرون ټولیزه بیه (2,054,855) دوه میلیونه څلور پنځوس زره اته سوه او پنځه پنځوس افغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو پر مهال، دوی کولای شي خپله نیو که په لیکلې بڼه د لاملونو په یادولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر پنځه (5) کاري ورځو پورې د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ټرون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته یادې شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به ټرون نه کیږي.

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلفون: 2106692/ فکس: 2100305(20)0093/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایتwww.dab.gov.af